استعمالیده. په افغانستان او پاکستان کی به مخدره مواد دټوخی او اسهال د تداوی او دکوچنیانو د بیده کولو لپاره استعمالیدل.

په ۱۰۰۰ میلادی کال کی یو عربی ساینس پوه چه البیرونی نومیده، افیوم او د هغه اعتیاد، جوړوونکی مشخصات بیان کړل. ابن سینا به مخدره مواد د مختلفو ناروغیو په تداوی کی استعمالول. په داسی حال کی چه په ازوپا کی راولف په (۱۵۷۰) میلادی کال کی منځنی ختیځ ته له خپل سفر څخه وروسته د افیمو اعتیاد جوړوونکی خصوصیات بیان کړل. له دی څخه وروسته برطانوی ډاکترانو افیوم د ټولو ناروغیو د تداوی دپاره دیوی قاعدی په ډول استعمالول خو لیکن د درد په آرامولو کی د افیمو استعمال ډیر ښکاره ؤ. د افیمو استعمال په لومړی ځل د اوولسمی پیړی په وسط کی په چین کی د یو مشکل په حیثیت ویلل شو.

په ۱۸۰٦ میلادی کال کی یوجرمني درمل پوه په دی قادر شو چه له افیمو څخه مارفین جلا کړی. د ۱۸۳۳ میلادی کال په دوران کی د مارفینو تزریقات جوړ او له هغه وخت څخه را پدی خوا د درد د آرامولو لپاره دمارفینو تزریقی طریقه معرفی او استعمال ئی پیل شو. دا مخدره ماده د امریکا دکورنی جګړی او په ۱۸۷۰ میلادی کال کی د جرمنی او فرانسی تر منځ د جګړی

په دوران کی په زیاته پیمانه استعمال شوه. د مارفینو د کشف څخه لږ وخت وروسته د مارفینو اعتیاد د عامی روغتیا یو پرابلم جوړ او ډاکتران ددی کار مسئول وګڼل شول. په ۱۸۹۸ میلادی کال کی د هغه کوښښ د مستقیمی نتیجی په ډول تر څو د مارفینو په شان یو قوی درد آراموونکی خو اعتیاد نه تولیدوونکی درمل تولید کړای شي، د یو جرمني شرکت له خوا هیروئین کشف شول، او ورته ددی مادی د درد د تحمل کولو د قابلیت د زیاتولو په اساس دا لاتینی نوم ورکړای شو. خولیکن د درمل د کاشف دنیك نیتی او د یو اتکاء تولیدوونکی درمل په عوض کی چه افیوم دی د یو اتکاء نه تولیدوونکی درمل د تولید د ضرورت برعکس نه یوازی داچه هیروئین د بشریت لپاره مضر ثابت شول، بلکه هیروئینو د بشریت د غلام جوړوونکو مخدره موادو دلست په سر کی ځای ونیو او یوه داسی نتیجه ئی ورکړه کومه چه د هغوی دمأخذ مخدره مادی، چه افیوم دي د استعمال سره معلومه نه وه.

تمدن او مخدره مواد

د اروپا او افغانستان تر منځ د مخدره موادو په مقایسه کی ولیدل شول چه د مختلفو ټولنو ضروریات، د مخدره موادو د اصلی بوټی موجودیت او د مختلفو صنعتونو مینځ ته راتګ ټول

هغه لوی عوامل دي کوم چه د مخدره موادو پرمختګ متأثر کوی. د مخدره موادو عام ضرورت طبی استعمال ؤ، او هغه هم معمولاً د درد آرامول، داروپائی پرمختللو درملونو له منځ ته راتګ څخه مخکی افغانانو افیوم د هغه په خام شکل کی په درد سربیره د توخی او اسهال د تداوی لپاره هم استعمالوه. په طبی استعمال سربیره د نورو تولیداتو لپاره د افغانانو ضروریات کوم چه په کافی اندازه په لاس راتلونکی او په اسانی سره د کوکنارو د ودی کوونکی بوټی څخه پرته ممکن نه ؤ. دوی د کوکنارو له بوټی څخه د خامو خوراکی تیلو، صابن او د څارویو د خوراکی موادو د تولید خواته متوجه کړل. په داسی حال کی چه په غرب کی د مخدره موادو استعمال له صنعتی انقلاب سره مطابقت خوری او د مختلفو اصلاحی او تقطیری طریقو په استعمال سره ئی په ډیری آسانی سره هیروئین تولید کړل. دا تضاد دټولنی اړتیاوی، د یولوی متأثر کوونکی عامل په څیر تشریح کوی. هغه صنعت کوم چه په دومره ابتدائی حالت کی وی، یو لړ داسی شیان تولید کړل کوم چه له اعتیاد جوړوونکو خواصو څخه بالکل مختلف او هیڅ ارتباط ورسره نه لري. خوله بله پلوه دا یوالځی پرمخ تللی تکنولوژی وه کومی چه وکولای شول چه ډیر قوي اعتیاد جوړوونکی مخدره مواد تولید کړل دا کار ځکه وشو، چه اصلاً د ټولنی ضروریات مختلف ؤ.

افغانان باید په دي خوشحاله ونه اوسی چه دوی دهیروئینو په ارتباط نه پوهیږی او دا چه دوی خودکوکنارو له بوټی څخه پراځی مفید محصولات په لاس راوړی. د نن ورځی تمدن د ماضی له پولو (سرحداتو) څخه تیر شوی دی او د جهاد په تعقیب منځ ته راغلی افغانستان نوره کومه گوښه او وروسته پاتی خاوره نه ده. هیروئین که څه هم ددی تمدن په واسطه د طبی اهدافو لپاره کشف شوی ؤ، په عین طبی میدان کی مضر ثابت شول.

اوس د هیروئینو کنترول یو مشکل کار دی، او دا ځکه چه دوی د ځینو خلکو په اذهانو د مدرن تمدن له خلق کړو مشکلاتو څخه د مؤقتی خلاصون یوه کاذبه مفکوره پیدا کړی ده له کومی څخه چه اوس د مخدره موادو تجاران سوء استفاده کوی.

افغانان هم د هیروئینو له مضرو اثراتو څخه په امن کی نشی پاتی کیدای. دا ځکه‌چه د افغانستان اوسنی وضع او حالت د هیروئینو د پرمختگ لپاره ډیر مساعد دي. د هیروئینو د تولید او پرمختگ دا سلسله تر هغه وخته پوری ختمیدای نشی، تر څو چه افغانانو د خپلو نیکونو په شان یو داسی تمدن نه وی غوره کړی کوم چه په هیروئینو آو په هیروئینو پوری په مربوطو تولیداتو کی زړه پوری والی ونه لري. حتی هغه گټی چه افغانان

ئی له کوکنارو څخه په لاس راوړی، باید له منځه یوواړای شی او دهغوی په عوض کی دګټو نور منابع ولټوی او په کار واچول شي. د بشریت د هلاکت او تباهی په عوض کی دا یو ډیر ارزان قیمت دی، کوم چه دوی ادا کولی شی.

الله تعالی فرمائی:

ترجمه:- دوی له تا څخه د شرابو او قمار په هکله پوښتنه کوی. ورته ووایه چه په دوی کی دخلکو لپاره ګناه او یو څه ګټه ده، خولیکن ګناه ئی له ګټی څخه لویه ده

(البقرة، الایه ۲۱۹)

نشه ای مواد اوس بین المللی ستونځه ګرځیدلی ده

نشه ای مواد ډیر اوږد تاریخ لری او بشر دتاریخ په اوږدوکی کله کله ددی مشکل سره مخامخ شویدی او ډیرخلک پدی معتاد شویدی خوله نیکه مرغه پخوانیو خلکو به په عنعنوی ډول او دبعضی مرضونو دتداوی لپاره استعمالول لکه دمثال په ډول افین به ئی دټوخی، اسهال، په ماشومانو کی دخوب

راوستلو، او درد دکمولو دپاره استعمالوه. خو له بده مرغه خلکو اوس دنشه ای موادو استعمال خصوصاً دهیروئینو استعمال دومره زیات کېږدی چه دبشر ژوند ته یو لوی تهدید دي او که ددی مصیبت مخه ونه نیول شي شاید یوه ورځ دهر فامیل دروازه وټکوی.

دي مصیبت اوس یو بین المللی شکل ځانته غوره کړیدی او ددی اهمیت ددی نه معلومیږی چه په(۱۹۹۰م)کال کی دملگرو ملتونوسر منشی دخپلی بیانیی په یوه برخه کی داسی وویل:(دنشه ای موادو مشکل نن دی حد ته رسیدلی چه باید ورته په بین المللی سطحه توجه وشی.دا واقعاً یو بین المللی مشکل دی دا دیوی کورنی، یو کس او یو مملکت مشکل ندی. دا مصیبت اوس فردی، فامیلی او اجتماعی مشکلات رامنځ ته کوی او درشوت،تشدد او مرگ خطرونه ورسره دی). نن ددی خبری تصدیق شاید هر څوك وکړی.

دیوی احصائیی له مخی چه اخستل شوی که چیری ددی مشکل مخه ونه نیول شی شاید د(۲۱۰۰م)کال پوری په نړی کی دهرو دوو کسانو څخه یو کس په یوقسم دواباندی معتاد شی.

که نن دپاکستان حالاتو باندی یو نظر واچوو په پاکستان کی هم دافینو استعمال اوس خپل عنعنوی شکل دلاسه ورکړی او

د(۱۹۸۰م) کال راپدی خوا هیروئینو په پاکستان کی دننه ځانته بازار پیدا کړی دی. د(۱۹۸۰م)کال نه دمخه چا دهیروئینو استعمال نه کاوه او هغی سروی چه دپاکستان حکومت له خوا په (۱۹۸۸م) کی تر سره شود وښودل چه په (۱۹۸۰م)کال کی (۵۰۰۰)کسانو هیرویین استعمالول ولی دهغی را هیسی دا شمیر څوچنده زیات شوی دی.

په (۱۹۸۷م)کال کی (۲٫۲٤)ملیونو خلکو مختلفی نشه ای دواګانی استعمالولی چه دهغی جملی څخه ئی (٤۸٪)دهیروئینو نشه کوله او نتیجه ئي په لاندی ډول وه:

هیروئین	۱۰۷۹٦۳۵
چرس	۷۲۲۸۸۰
افین	۲٦۰۷٤۵
بنګ	۱۳۱۲۰۵
نوری دواګانی	٤۹۵۱۵

او هم داسي ښودل شویده چه په همدي کال کی (۱۷۰,۰۰۰) شاګردان په مختلفو دواګانو معتاد چه دهغی جملی څخه (۵۰٪) ئی په هیروئینو باندی معتاد وو.

په (۱۹۸۸م)کال په پاکستان کي تقریباً (۳۰بلیونه)روپی

په نشه ای موادو لگیدلی دی او اوسنی سروی بنائی چه په پاکستان کی اوس دهیروئینو معتادینو شمیر (۱،٦) ملیونه کسانوته رسیدلی دی.

پورتنی احصائی بنائي چه دا مشکل څومره مخ په زیاتیدو روان دي.

همداسي که دافغانستان حالاتو ته وگوروتقریباً شل کاله دمخه چا شرابیان نه پیژندل او دچرسیانو تعداد هم بیخي دگوتو په شمار ؤ ولی د(۱۹۷۸م) کال راپدي خوا ډیرو خلکو په شرابو چښلو شروع وکړه ځکه په‌ازاد ډول په بازار کی شراب خرڅیدل. ویلای شو چه ماشومانو هم شراب چښل شروع کړي وو. همداسي دچرسیانو شمیر هم په افغانستان کی ډیر زیات شویدی. راځی چه دکولمبیا حالاتو ته وگورو څو کاله دمخه په کولمبیا کي خلکو دکوکین کرل شروع کړل ولی پخپله به چانه استعمالول او خارج ته به ئي لیږل ولي نن تقریباً(۶۵۰,۰۰۰)کسان پخپله په کولمبیا کي په کوکینو معتاد شویدی.

دپورته مضمون دویلو څخه وروسته به دهر لوستونکي په فکرکي دا سوال پیدا شوی وی چه دا ولی په دومره لنډه موده کي دومره زیات خلك په دي مصیبت اخته شول؟ ددي علتونه خو ډیردي خو دډولونه مهم او عمده علت ئی په منطقه کي دنشه اي

موادو شته والي دي چه په آساني سره دخلکو لاس ته ورځي.

که چیري نن دافغانستان حالاتوته وګورو دبعضي بین المللي احصائیو له مخي دافغانستان په(۱٤)ولایتونو کي افیوم کرل کیږي. که چیري دا وضع دوام وکړي شاید دهیروئینو معتادین په افغانستان کي هم لکه دپاکستان په شان په هرښهراو کلي کي پیداشي.

ددي بلانه دخلاصون لپاره او هم دآینده نسلونو دښه ژوند لپاره پکار ده چه دټولني هر غړي چه هر چیري او په هر موقف کي چه وي باید دمخنیوي لاري چاري ئي ولټوي، ځکه خداي(ج) دي نه کوي چه هغي حد ته ونه رسیږو چه بیا ترینه بیرته راګرځیدل ګران وي.

راځي چه داسلامي هدایاتو په رڼا کي چه هره نشه پکي حرام ګڼل شویده پداسي کوښښونو پیل وکړو چه خپل ځان، کورني، ټولنه او په مجموع کي ټول بشر ددي لوي مصیبت څخه خلاص او دآخرت اجرهم تر لاسه کړو.

دنشه ای موادو ناوړه اثرات او ستونځی

نشه ای مواد ډیر زیات او مختلف دی او دهر یوه دناوړه اثراتو بیانول ډیر وخت غواړی او ډیر کتابونه پدی لیکل شویدی خو دلته مونږ کوښښ کړیدي چه په عمومی ډول دنشه ای موادو دناوړه اثراتو په باره کي یو لنډ مضمون ولیکو. ددی څخه هیڅوك انکار نشي کولاي چه هره نشه ای ماده مضره ده دمثال په ډول که مونږ شرابوته متوجه شو نن په نړی کي ډیر زیات استعمالیږي او دوجود هر غړي باندي بد اثر کوی نن ئي خلك دسفلیس مرض سره چه هغه هم یو خطرناك مرض دي او دبدن په هر غړی باندی بد اثر کوي او هغه تخریبوي مشابهت ورکوی.

همدارنگه راځی چه په یوه بله نشه اي ماده چه نن یو بین المللي مصیبت گرځیدلي او دبشر ژوند تهدیدوی دهغي په ناوړه اثراتو رڼا واچوو چه هغه عبارت دهیرئینو څخه ده.

دا ستونځي او ناوړه اثرات کولاي شو په دري برخو وویشو:

بسم الله الرحمن الرحيم

سریزه

لکه څنګه چه مخدره مواد د بشر په تاریخ کی اوږده سابقه لری همداسی ئی د مخنیوی د پاره هم په مختلفو وختونو کی اقدامات شوی دي، ولی متأسفانه چه دا مواد ځانته کله داسی شکل غوره کړی چه د ټول بشریت ژوند ته د تهدید سبب شي. ددی مثال نن په هیروئینو کی لیدای شو چه دا مشکل څومره زیات او خطرناك دی.

دا مشکل اوس بین المللی ستونځه ده او مخنیوی ئی هم د یوه شخص، ډلی، ملت د وس نه وتلی کار دی. په پیښور کی دملګرو ملتونو د مخدره موادو دکنترول نړیوال پروګرام (UNDCP) د افغانستان دپروګرام دفتر ډیر زیات کوښښونه کړیدی او کوي ئی چه په افغانی ټولنه کی د مخدره موادو په ضد شعور را بیدار کړی او په دی لاره کی ئی د ټولنی د مختلفو

الف: روغتیائي ستونځي.

ب: اقتصادی ستونځي.

ج: اجتماعي ستونځی.

الف: روغتیائي ستونځي:

دا ستونځي کیداي شي چه ناڅاپي وی لکه ددوا دزهری اثراتو له کبله چه سبب دډیری سختي ناروغتیا یا حتی دمرگ سبب شي، یا داوږدی مودی ستونځي وي چه په لنډ ډول سره لاندي بیانیږی:

۱- دغذائي موادو کمیدل وجود ته چه په طبي اصطلاح کي ورته سؤ تغذي وائي دا ددي په خاطر واقع کیږی چه دي همیشه دخپل خوراك څخه بي پروا او ذهن ئي گډوډ وي اوددوي زیات فکر دنشه اي دوا په پیدا کولو کي مصروفوي. دا هم یو دلیل کیداي شي چه دوي خپلي پیسي په دوا لگوي او دښه خوراك وس او قدرت داخیستو ورسره نه وی.

۲- دبدن عمومي کمزوري له کبله اوهم ددوي دخراب نظافت په خاطر دوی دډول ډول موضونو سره لاس په گریوان وی. په خاص ډول دتنفسی سیستم مرضونه.

۳- دوي اکثره په بطني دردونو قبضیت او داسي نورو

تکلیفونو گرفتار وی.

٤- وجود ته دمختلفومرضونو داخلیدل: دا په هغه معتادینو کي واقع کیږي چه دوي نشه اي مواد ځانته پیچکاری کوی ځکه ددوي سره پچکاري اکثر ناپاکي وي، په بار بار هغه پیچکاري استعمالوي او دیو او بل سره ئي شریکوي چه کیداي شی موضعي دانی (Abscess)، دویني درگونو پړ سوب او نور مرضونه لکه ایډز، ملاریا، زیړی چه هغه هم دپیچکاری په واسطه یو بل ته نقل کیزی په دوی کي پیداشي.

٥- **فحشا**: دا خلك څرنگه چه دنشي غلامان گرځیدلی نو ځکه دنشه اي موادود پیدا کولو دپاره هری لاري او وسیلي ته‌خه کار اخلي چه فحشا هم پکي شامله ده خصوصاً په نشه اي بنځو کي، دفحشا نه پخپله مختلف مرضونه لکه: ایډز، سفلیس او داسي نوري ډیری زیاتی خطرناکي بیماري پیدا کیږی.

٦- **خود کشي کول**: دا خلك مایوس، ناارامه ، دگډوډ ذهن خاوندان او په ټولنه کي رټل شوي خلك دي او دوي بعضي وخت په خود کشي لاس پوری کوي.

٧- **دحادثاتو سره مخامخ کیدل**: دا خلك څرنگه چه اکثر وخت نشه وي او ذهن ئي گډوډ وي دمختلفو پیښنو لکه ترافیکي او داسي نورو پیښنو ښکار شي.

۸- **دذهن ګډوډی:** ددوی ذهن همیشه ګډوډ وی او دښواو بد و تمیز ورته ګران کار وی همیشه ناآرامه، خفه، یا غصه وي. دوی ددینی فرائضو د اداء کولو څخه هم غافل وي نو دوی نه یوازی ددنیوی تاوان سره مخامخ کیږی بلکه اخروی تاوان هم ورته رسیږي.

ب: اقتصادي ستونځي:

دا کیدا شي شخصي او یا ملي وي.

شخصي ستونځي:

۱- دوي په نشه اي موادواخیستلو باندي زیاتي پیسي لګوي چه دا دفامیل په اقتصاد فشار اچوي.

۲- ددوي دکار کولو توان کم وي اکثر دوظیفي څخه بر طرف کیږی.

۳- دا چه دوی پخپله هم کار نکوی او هم پیسي په نشه ای موادو لګوي دفامیل اقتصاد لاپسي کمزوری کوی.

ملی ستونځي:

۱- دبشری قوت ضایع کیدل چه دملك دټولو نه مهمه سرمایه ده.

۲- یو مملکت دنشه یانو دتداوي او بیا نورمال حالت(Rehabilitation) ته دګرځیدودپاره ډیري سرمائي ته ضرورت لری.

۳- بعضي وخت دنشه اي موادو دحمل او نقل په سر ممکن دمملکتونو تر منځ جګړی وشي چه ښه مثال ئي په(۱۸۳۹-۱۸٤۲م)کلونو کي دچین او انګلیسانو ترمنځ جنګ دي چه دتریاکودجنګ په نوم یادیږي .

٤- نشه یان په نشه ای موادو ډیری پیسي لګوی چه دا بیا هم یوه ملي ستونځه ده لکه چه دمصر دالاهرام ورځپاڼي په(۱۹۸۲م) کال په یوه سیمنار کي څرګنده شوه چه په مصر کي په مخدره موادو دومره پیسي لګیږي چه هغه مساوي دي دمصر دصنعتي او زراعتي صادراتو نیمائي سره، یا دمصر دټولو دولتي کارکوونکو دمعاش سره یا دسویز کانال دټول عاید سره.

ج: اجتماعي ستونځي:

۱- نشه اي همیشه دنشه ای موادو په لټه کي وي دخپل اولاد او فامیل دنفقي غم ورسره نه وي، دفامیل سره په جګړو اخته وي چه دا کیداي شي دفامیل دجدائي یا طلاق سبب شي او اولادونه ئي بي سرپرسته کیږي.

PROPERTY

۲- معتادین اکثرا خپلي پیسي په نشه اي موادو لګوي چه پیسي ورسره خلاصي شي هر ډول جرم باندي لاس پوري کوي لکه غلا، قتل، فحشا او داسي نور.

۳- دمعتادینو فامیلونه اکثراً په ټولنه کي خپل موقف دلاسه ورکوي او خلك ورته دبي احترامي په سترګه ګوري.

٤- دنشه اي موادو په حمل ونقل او قاچاق کي شاید ددولتي امنیتي مسوؤلینو او قاچاق وړونکو ترمنځ دجګړو په نتیجه کي ډیر بي ګناه خلك خپل ژوند دلاسه ورکړي چه ژوندي مثال ئي په کولمبیا کي ددولتي قواو او دکوکین دقاچاق وړونکو ترمنځ جګړي دی.

چرس او دهغه ناوړه اثرات

دچرس دبوټی اصلی ځای ځوك مرکزی اسیا او ځوك هم افریقا بیانوی او ددی ځای څخه بیاد دنیا نورو ځایو نو ته هم خپور شو. په نولسمه پیړۍ کی هغه وخت چه دفرانسوی فاتح ناپلیون لښکرو مصر اشغال کړو نو دهغه عسکرو چرس اروپاته هم دځانه سره یووړل.

بعضی اسناد چه په ایران، عربو او هندوستان کی لیکل شویدی ښائي چه چرس دعیسی علیه السلام دمیلادنه مخکی هم رواج وو.

داچه چرس څه وخت پیدا شول او له کومی خوا پیدا شول مهمه نده، ولی دټولونه مهمه خبره خو داده چه نن زمونږ ډیر ځوانان په دی ناوړه مصیبت اخته شویدی بی لدی چه ناوړه اثراتوته ئی متوجه شی.

چرس عموماً په سګرټو او چلم کی څکول کیږی او بعضی خلك ئی خوری هم. دڅکولو څخه وروسته ددی اثرات په څو دقیقو کی پیدا کیږی او د دوو څخه تر څلورو ساعتونو پوری دوام کوی. دنشی په حالت کی انسان لږارام او په وجود کی ئی سستی پیداشی او دخوشحالۍ احساس کوی. د ده فکری تمرکز او حافظه خرابه شی، ډیری زیاتی خبری کوی، اشتهائی زیاتیږی، سترګی ئی سری او په عادی خبره باندی هم خاندی. ددی ترڅنګ کله کله د وهم او ترس ښکارشی او هر چاته دشك په سترګه ګوری او فکر کوی چه ده ته ضرر رسوی. د زړه ټکان ئي هم زیات شی او جسمانی کار په ښه ډول نشی ترسره کولای. داؤو دلنډی مودی تاثیرات ئی او اوس به یوڅوټکی دچرسو په اوږدی مودی تاثیراتو باندی ولیکو:

۱- دزړه ناروغی: دایوډول ناروغی ده چه انجینا (Angina) ورته وائي چه مریض دکار کولو او یا منډی وهلو په وخت کی شدید دسینی درد پیدا کوی چه کیدای شی دزړه دحملی سبب شی.

۲- دسږو (شش) مختلف مرضونه پیدا کوی.

۳- په هغه خلکوکی چه پخوانی دماغی مرضونه ئی لرل او اوس ښه وی که چرس استعمال کړی هغه بیا ورته پیدا کوی او یوقسم مریضی چه لیونتوب ته ورته ده، تری پیدا کیږی.

٤- دانسان حافظه کمزوری کوی، بدنی صحت ته ئی زیان رسوی او دکار کولو قابلیت ئی هم کمیږی.

٥- دبعضو تحقیقاتو په نتیجه کی چه شوی دی داسی نتیجی ئی راوتلی دی چه که چیری یو سړی په هفته کی (۱۰) یا دهغی نه زیات د چرسو سګرټ وڅکوی دهغی په وجود کی بعضی مواد چه تیستسترون اوسپرم ورته وائی ٥۰٪ کمیږی چه دامواد د انسان داولاد پیدا کیدوکی پکاریږی.

٦- چرسیان ورو ورو دکار شوق دلاسه ورکوی دمغزو دفکر کولو قوه، او حافظه ئي کمیږی او هم کیدای شی داخلك دهیروئینو او نورو نشه ای مواد و په استعمال شروع وکړی.

ددی ترڅنګ څرنګه چه چرس په چلم او سګرټوکی استعمالیږی دسګرټو ضررونه هم ورسره ملګری کیږی چه هغه عبارت دی له: دوجود د مختلفو برخو سرطان لکه دسږو، خولی، شونډو، مرئ، مثانی، ګردی او داسی نور.

دمثال په ډول په (۱۹۸۱ م کال کی په امریکاکی (۱۰۵۰۰۰) کسان دسږو دسرطان څخه مړه شول چه په دی کی (۸۰) فیصده خلکو دمرګ سبب دسګرټو څکولو له وجی ښودل شوی دی.

علاوه پردی دزړه مختلفی مریضی هم دسګرټو په وجه پیدا کیږی چه دوینی رګونه تنګیږی او دزړه دحملی امکان لری.

ډول ډول دتنفسی سیستم مرضونه او دوجود دنورو برخو مریضی هم تری پیدا کیږی.

نواوس معلومه شوه چه چرس نه یوازی دا چه خپله مرضونه پیدا کوی دسګرټو ضررونه هم ورسره وی.

دچرسو په پریښودو سره سړی ته نا ارامی، اعصاب خرابی، بی خوبی او بی اشتهائی پیدا کیږی خو دا دلنډی مودی دپاره وی چه پخپله دمنځه ځی او سړی عادی حالت ته راګرځی.

نو زه دهغو ګرانو ورو ڼونه چه ددی ناوړه مصیبت سره

لاس او گریوان دی، دوخت نه په استفادی داخواهش کوم چی راځئ خپلی ښکلی ځوانئ دچرسو او سگرټو په لوگیو مه سوځوی او هر ځومره ژرچه کیږی ددی عمل څخه لاس واخلئ تر څو دیوه روښانه او خوشحاله ژوند خاوندان شی.

دپاك خدای (ج) څخه درته پدی لاره کی توفیق غواړم.

دنشه یا نو پیژندنه

فکر کوم بي ځایه به نه وی که یوڅه دنشه یانو په پیژندلو ځان پوه کړو ځکه که چیری مونږ هغه څوك چه نشه کوی هر څومره ژر چه وپیژنو او ورته لازم تدابیر ونیسو هغو مرد به ئي ژرتداوی او مخینوی په اساني سره وشي. دا به دنشه یانو دکورني، استادانو، امرینو، دکار ملگرو او دده نور و ملگرو سره کمك وکړی ترڅو دوی ژر دده په باره کي وپوهیږي خو یوشي دیادوني وړ دي چه په یو یا دوه نښو نښانو باندي دا فکر ونشي چه داسړي نشه اي دي، بلکه دهغه په باره کي مکمل معلومات پیدا کړي. که دنشه اي عمر په نظر کي ونیول شي عموماً د ٤٠ کالونه وروسته ډیر کم خلك به وی چه په نشه شروع وکړی او هغه هم شاید کوم دماغی تکلیف ولری چه باید توجه ورته وشي ځکه

څومره چه عمر زیاتیږی دسړی دژوند تجربی هم دومره زیاتیږی او یوقوی شخصیت پیدا کوی. داځوانان دی چه ډیر ژر احساساتي او مایوس کیږی دژوند دمشلاتو سره پنجه نشي نرم کولای او دنشه ای موادو طرف ته میل پیدا کوی او خپله خوبني په هغي کي لټوي. نارینه عموماً ډیر نشه کوی خصوصاً دنړئ پدی برخه کي او ښځی ډیری گمی لیدل کیږی چه نشه ای مواد استعمال کړی او که استعمال ئی کړی هم، شاید بعضی زړی ښځی به وی چه نصوار او چلم استعمال کړی. ځکه په دی ټو لنوکي دښځي دپاره نشه کول لوی عیب دی او واقعاً چه دا ډیر ښه کلتور او رواج دی. بعضي گروپونو، قبیلو یا منطقوکي چه دنشي ای موادو استعمال پکی رواج وی دهغی له مخی یوڅه اندازه ویلای شو چه دا سړی به نشه کوی او که نه، ځکه که څوك دمثال په ډول دچرسیانو سره ډیر گرځي کیدای شي دی هم چرسي وی.

فامیل هم پدی برخه کي رول لوبوی ځکه په ازادو فامیلونوکي چه نشي ته دومره څوك بدنه وائي - یا په هغه فامیلونوکي چه مور او خصوصاً پلار دومره مشغول وی چه اولاد ته ئی فکر نه وی، یا په هغو فامیلونوکي چه پلار یا کوم بل دفامیل غړی نشه کوی د ده دنشه ای کیدو امکانات زیات وی. دا خو وی عمومی خبری او راځي وگورو چه اوس دیو نشه ای

قشرونو خلك لکه ډاکتران، اجتماعی کارکوونکی، معلمان او علماء روزلی دی.

څرنگه چه د مخدره موادو مخنیوی دیوی اویا څو ادارو کار ندی نو ځکه (UNDCP) ددی کار د ښه پرمختگ د پاره په هغو خیریه موسساتو چه د افغانانو د پاره ئی کارکاوه د گډون غږ وکړ.

د الوکالة الاسلامیة للإغاثة(اسرأ) موسسی چه د ډیره پخوا را هیسی ئي افغانانو ته د ژوند په بیلو بیلو اړخونو کی ډول ډول مرستی کړیدی او اوس هم دوام ورکوی را وړاندی شوه او د مخدره موادو د مخنیوی په خاطر ئی پدی برخه کی د ملگرو ملتونو سره اوږه په اوږه مبارزه پیل کړه.

اسرأ پدی برخه کی دوه کاله دمخه (٤٠) تنه روغتیائی کارکوونکی د مختلفو کمپونو څخه را غونډ کړل او هغوی ئی د قرآن، احادیثو او طبی لارښوونو په رڼاکی داسی وروزل چه هم کولاي شی په هیروئینو اخته کسان تداوی اوهم د مخدره موادو په ضد خلکو ته آگاهی ورکړی.

له هغی نه وروسته اسرأ د مختلفو کمپونو څخه دینی عالمان او دجامع مسجدونو خطیبان را غونډ کړل او هغه ئی د قرآن او احادیثو په رڼا کی داسی وروزل چه خلکو ته ددی بلا نه

پخپله وجود او کردارکي څه تغیرات کیداي شي راشی وړینو:

الف: ظاهری بڼه ئي:

۱- دده په گوتو اوهم دبدن په نورو برخو او کالیو لکه دسگرټیانو عموماً یواندازه زیړ والي، او بعضي وخت دسوځیدو نښي نښانی لیدل کیږی.

۲- دسترگو تغیرات: ددوی په سترگو کي هم تغیر راځي لکه دمثال په ډول دچرسیانو سترگي همېشه سری وی او دافین نشه یانو دسترگو کسي همیشه ډیر تنگ وی.

۳- دوی اکثر وخت خپل دنظافت خیال نه ساتي.

٤- گنکس او دکسالت احساس ورسره وی.

٥- خبری هم چه کوی خپل نورمال ډول خبری نه کوی او ژبه ئي بند یږی.

٦- کله کله دداسي شیانو شکایت کوی چه هغه موجود نه وی لکه به غوږونوکي داواز ونو اور یدل نادر شیان لیدل یا دبعضي شیانو احساسول.

۷- څرنگه چه دوی دحادثاتو سره مخامخ کیږی شاید چه په وجودئي د زخمونو علایم ولیدل شی.

ب: په عاداتو او روش کی تغیرات:

۱- دوی کله ډیر زیات خوشحال وی او کله خفه، کله په قهر وی او کله ډیر ترس ورسه پیدا کیږی او هر چاته دشك په نظر گوری چه دوی ته ضرر رسوی.

۲- دکار کولو قابلیت کی ئي کمی راشی، که متعلم وی په مختلفو بهانو دمکتب څخه غیر حاضری کوی او که کارمند وی خپل کار ته نه ځی.

۳- دډیرو رخصتیو غوښتنه کوی.

٤- که نشه یان غریب وی ډیر قرض غواړی او پیسو مصرف ئي هم دپخوا څخه زیات شی.

٥- بی حیا ژبه استعمالوی او بی شرمه کارونه کوی.

٦- ددینی فرایضو داداکو لو څخه هم غافل کیږی.

۷- نوی عادات پکی پیدا کیږی لکه دروغ ویل، غلاکول چه دخپل کور څخه غلا هم پکی شامله ده.

ب: اجتماعي تغیرات:

۱- همیشه گوشه گیری کوی دخلکو سره ئي عموماً کړه

وړه کمیزی ځکه دی همیشه کوشش کوی چه ځان پټ وساتي.

۲- دخپلي کورني سره ئي علاقه کمه شي.

۳- دچا په غم او خوشحالی کی اشتراك نه کوی.

٤- دپخوانیو ملگرو سره ئي رابطه کمه شي او ځانته نوی ملگری چه عموماً هغه هم نشه یان وي پیدا کوی.

٥- که چیري دوی په داسي شرایطوکي وساتل شي چه یوه شپه او ورځ ورته دوا ونه رسیزی او دوی رښتیا معتاد شوی وی دوی ته ډول ډول تکلیفونه لکه قهر غصه، بي خوبي دسترگو او پزي څخه داوبو جاری کیدل، دځان شدید درد پیدا کیدل او داسی نور علایم چه مخکي ذکر شوی دی پیدا کیږی چه داهم کیدای شي یوښه ثبوت وی چه په دوی وشي او ولیدل شي.

دا وولنډ معلومات چه کیدای شي د محترمو فامیلونو، استاذانو، امزینو او دمریض ملگرو سره کمك وکړی چه دوی ژرتر ژره نشه یان وپیژني او لازم کمك ور سره وکړی.

دمخدره موادو مخنیوی

دا خبره باندی اوس هرڅوك پوهیږی چه مخدره مواد په شخص، کورنی او ټولنه باندی ډیر ناوړه اثرات لری، او ددی مصیبت څخه دخلاصون لپاره پکار ده چه دمخدره موادو په مخنیوی کی هراړخیزه کوښښونه وشی.

مخکی لدی نه چه پدی موضوع کی نوری خبری وکړو، فکر کوم چه دابه ډیر مفید وی چه په لنډ ډول سره ددی موادو داستعمال علتونه بیان کړو چه خلك ولی دا ډول مواد استعمالوی چه هغه په لاندی ډول سره خلاصه کیږی:

۱- دکنجکاوی په خاطر - چه ددی موادو په اثراتو ځان پوه کړی.

۲- دژوند دمشکلاتو څخه دلنډی مودی دپاره دخلاصون په خاطر.

۳- دملگرو له خوا فشار.

٤- دغم، خفگان او ناامیدی په وخت کی.

۵- بعضی خلك خپل ځان دنورو نه کم گڼی او دحقارت احساس کوی- ددی فکر دورکولو په خاطر.

۶- نوی ځوانان: ددی لپاره چه ځان خلکو ته وښائی چه دوی اوس غټ شوی دی.

۷- دساعت تیری په خاطر.

۸- فامیلی او ټولنیز اثرات: په هغه کورنیو او ټولنو کی چه دمخدره موادو استعمال ډیر رواج ولری او داسی نور.

ددی پورته علتونو څخه دا معلومیږی چه دمخدره موادو دمخنیوی لپاره باید چه په شخص، کورنی، ټولنه او محیط ټولو کی مثبت تغیر راوستل شی ځکه داټول په یوبل باندی متقابل اثرات لری. ددی کار دپاره باید چه معتاد کسان تداوی او ددی موادو عرضه او تقاضا کمه شی.

دعرضی کمول دقانون دتطبیق دلاری:

۱- ددی موادو استعمالونکو ته سزا ورکول. -۲- ددی موادو دقاچاق بندول. -۳- ددی موادو په کرلو باندی بندیز لګول او په ځای ئي دبل فصل رواجول. -٤- په بانکونو باندی فشار اچول چه ددی موادو دپیسو ساتلو او انتقال څخه ډډه وکړی. -۵- ددی موادو خرڅونکو ته سزا ورکول.

دتقاضا دکمولو لاری:

۱- په مکتبونو کی دنشه ای موادو په باره کی پروګرامونه

جوړول- چه شاګردان ددی موادو په ناوړه اثراتو پوه شی او دمخدره موادو په ضد په دوی کی شعور پیدا شی. دا کار دوه ګټی لری یو داچه پخپله به شاګردان تری فایده واخلی ځکه دنشه ای موادو استعمال پخپله په شاګردانو کی هم زیات دی او بل داچه داشاګردان دټولنی دمختلفو طبقو څخه راځی او کولای شی داپیغام په خپلو کورنیو او ټولنه کی خپور کړی.

۲- پلرونو او میندو ته تعلیم ورکول- پدی سره پلار او مور کولای شی خپل اولاد داسی وروزی چه په ذهنونو کی ئي ددی موادو په ضد شعور پیدا کړی او بل داچه که اولادئي پدی کار شروع کوی ژرئي وپیژنی او مخنیوی ئی وکړي.

۳- ټولنی ته تعلیم ورکول - دعامه خبرتیا وسائیلو لکه اخبار، رادیو، تلویزیون، اوداسی نورو له لاری. داکار دتعلیمی موسساتو او دصحی مرکزونو دلاری هم کیدای شی.

٤- دمعتادینو تداوی او دوباره په ټولنه کی برحال کول.

٥- ددینی علماو دلاری: په اسلامی نړی کی علما کولای شی دنشه ای موادو په مخنیوی کی مهم رول ولوبوی ځکه اسلام یو کامل دین دی او دیو مسلمان په ژوند کی دزیږیدو څخه ترمرګه پوری دوامدار اثر کوی او ددی موادو ناوړه اثرات او حراموالی په اسلام کی بیان شویدی. له بله طرفه په اسلامی نړی

کی خلك علماو ته ډیر زیات احترام لری او دقدر په سترگه ورته گوری نو دوی کولای شی خلکو ته دنشه ای موادو ناوړه اثرات او حراموالی په مسجدونو او نورو دیني مراسمو په وخت کی بیان کړی او خلکو کی ددی موادو په ضد شعور را پیدا کړی.

اوس راځی چه دمعتادینو په باره کی یو څه فکر وکړو:

دټولونه مهمه خبره خو داده چه نن خلك معتادینو ته په ډیره سپکه سترگه گوری او دوی دجامعی څخه خوځه، چه دخپلو کورنیو لخوا هم رټل شویدی. داپخپل ذات کی یوغلط کار دی ځکه ددی نه چه دوی نورهم مایوس او دهلاکت په لاره کی خپل ژوند ته دوام ورکړی، بهتره به داوی چه دټولنی دیو باحساس غړی په جیث او دخپل مسئولیت په درك داسی لاری چاری ولټوو چه دوی دی ته وهڅوو چه دذی ناوړه عمل څخه لاس واخلی.

دوی ته باید دیو مریض په سترگه ولیدل شی او دعلاج په باره کی ئی فکر وشی. دادیو کس او یا دیوی خاصي ډلی وظیفه نده بلکه دټولنی دهرغړی وظیفه ده چه ددوی سره دکمك په خاطر، دوی تشویق کړی او وئی پوهوی چه کیداي شی دوی تداوی شی او یو روښانه مستقبل او ژوند پیدا کړي. گرچه ددوی قانع کول یو اندازه مشکل دی خو که ډلږ صبر او حوصلی څخه کار واخستلی شی ناممکن ندی. هرکله چه دوی راضی شی دعلاج

مرکزته ولیږل شی. باید په یاد ولرو چه هرکله دوی تداوی شی قصه دلته نه تمامیږی بلکه ددی ترڅنګ دوی ته باید روحی تداوی هم ورکړل شی.

۱- هر ممکن کوښښ وشي چه ټول هغه مشکلات چه دی ئی نشی ته مجبور کړی ؤ حل شی. لکه دماغی فشار، فامیلی، اقتصادی او اجتماعی مشکلات. -۲- تشویق شی چه دنور تعلیم او کار ترڅنګ دینی تعلیم زده کړی. -۳- ده ته مخدره موادو ناوړه اثرات او دهغوی تاثیر چه دده په صحت، کورنی او ټولنه باندی کیږی ورپه ګوته شی. -٤- کوښښ وشی چه دپخوانیو نشه ای ملګرو سره ئی ارتباط قطع شی. -٥- دده بیا بر حال کول په ټولنه کی (Rehabilitation): دوی وپوهول شی چه دوی کولای شی بی له دوا داستعمال څخه هم په نورمال ډول ژوند وکړی. دا دټولونه مهمه مرحله ده او هم دمشکلاتو ډکه. ځکه لکه څرنګه چه مخکی ذکر وشو دوی دټولنی او کورنی لخوا رټل شوی خلك دی، هیڅوك نه حاضریږی چه دده سره در داو غم شریك کړی.

که څه هم ده به په ریښتیا تصمیم نیولی وی چه نشه پریږدی او په ټولنه کی مثبت رول ولوبوی، مګر کله چه کارته ځی څوك کارنه ورکوی او هرڅوك دشك په سترګه ورته ګوری. داهغه

مرحله ده چه که ورسره مرسته ونشی شاید بیرته خپل پخوانی دبدبختی ژوند ته دمایوسی له کبله وروگرځی.

پدی مرحله کی باید ده ته نظر دده په خوښه، تعلیم او په مختلفو حرفو کی لکه خیاطی، نجاری، آهنگری، قالین بافی او داسی نورو کی تربیت ورکړای شی ترڅو په آینده کی ځانته مستقل او باعزته ژوندو کړی.

داپورته خبری گرچه مشکل کار دی. خوبیا هم په پوره اطمینان سره ویلای شم چه که کورنی او ټولنه پکی فعال رول ولوبوی ناممکن ندی.

منشیات دقرآن او احادیثو په رڼا کښې

خدایٔ پاك انسان اشرف مخلوقات پیدا کړی دی. د ده شرافت که یو اړخ ته په دی وجه دی- چه دی ئی په ډیر ښکلی شکل کښې پیدا کړی دی. نوبل اړخ ته دده دشرافت وجه دده علم دی کوم چه خدایٔ پاك ده له ورکړی دی- فرشتو ده ته دده دعلم په وجه سجده کړی ده. انسان ته چه خدایٔ پاك کوم علم ورکړی دی دهغی دوه قسمه دی- یوهغه علم چه تعلق ئی دمشاهداتو سره دی چه دحصول دپاره ئی الله انسان ته سر او سترگی ورکړی دی چه ددی په برکت ده کائنات مسخر او دکائناتو په دی تسخیر کښې دی بیخی آزاد دی. البته دومره پابندی پری لگولی شوی ده. چه داتسخیر به دی دخدائی او د هغه درسول ﷺ داحکامو په رڼا کښې کوی او خپل علم به دخدایٔ دمخلوق په کار راولی.

بل هغه علم دی چه تعلق ئی دخدایٔ دوحی سره دی. په دی علم کښې انسان دخپل ځان نه څه تصرف نه شی کولی بلکه دی به دخدایٔ داقانونی حاکمیت ضرور منی او ددی قانون وړاندی به خپل سرښکته کوی.

گویا چه دانسان دانسانیت اندازه که یو اړخ ته دمادی ترقیٔ نه لگولی شی- چه پکښې دی دخپلوټولو صلاحیتونو نه کار اخلی نو بل اړخ ته دده دانسانیت او شرافت اندازه ددی نه هم

د خلاصون د پاره او د مخدره موادو د مخنیوی په خاطر آگاهی ورکړی، دا ډیر مهم قدم ؤ ځکه د افغانستان خلك دیر کلك اوقوی مسلمانان دی او علماء ته هم زیات احترام لری نو محترم علماء پدی برخه کی مهم رول لوبوی پدی برخه کی دوی ته یو رساله هم داسرأ دپخوانی رئیس داکترعبدالرحمن احمد، دپیښور پوهنتون دشیخ زید داسلامی مرکز درئیس پروفیسور داکترسعید الله قاضی او دکورس دمنسوبینو په مرسته چاپ شوی وه.

اوس دادی یو ځل بیا اسرأ، دمحترمو دینی عالمانو او دجمعی مسجدونو خطیبانو دپاره پروگرام ترتیب کړیدی چه دوی دقرآن، احادیثو او طبی لارښوونو په رڼا کی داسی وروزی چه خلکو ته د مخدره موادو د مخنیوی په لار کی د خدمت وړ وگرځی او خلکو کی ددی موادو د ناوړه استعمال په ضد آگاهی را پیدا کړی.

بیاهم کوښښ شویدی او یوه لنډه رساله مو ترتیب کړیده چه څه مضمونونه ئی د پخوانی رسالی او څه نوی مضامین چه نوی معلومات پکی دی اضافه شویدی. او امید دی چه دا رساله به هر لوستونکی ته په زړه پوری او گټوره ثابته شي.

والسلام

دکورس د اداری لخوا

لگولی شی چه ایا دی په دی دنیا کښی خپل روزمره ژوند دخدایٔ او د هغه درسولﷺ دتعلیماتو په رڼا کښی تیروی او کنه - په دی دواړو حالتونو کښی عقل یو بنیادی کردار ادا کوی- نو دانسان دانسانیت او شرافت معیار دا شو چه دی په دی دُنیا کښی خپل ژوند دخدایٔ او دهغه درسولﷺ مرضی مطابق تیر کړی.

دخدایٔ او دهغه درسولﷺ مرضی داده، چه انسان دهغه کارکوی دکومی دکولو چه خدایٔ او دهغه رسولﷺ حکم ورکړی دی- او دکومو کارونو نه چه ئی منع راوړی ده - هغه دنه کوی.

الله(ج) او دهغه رسولﷺ چه دکومو کارونو کول حکم ورکړی دی هغی ته حلال وائی او دکومو کارونونه چه ئی منع راوړی ده هغی ته حرام وائی- دکومو اشیأو داستعمال چه ئی اجازت ورکړی دی هغی ته حلال اشیأ وائی. او دکومو اشیاؤ داستعمال نه چه ئی منع راوړی ده هغی ته حرام اشیاء وائی.

ولی مونږ ته داهم معلومیدل په کار دی چه شریعت مونږ د کومو کارونو دکولونه منع کړی یو یائی په ځنی اشیاؤ پابندی لگولی ده. دهغی کارونو په کولو او دهغی اشیاؤ په استعمالو لو کښی ضرور زمونږ تاوان وي. او دکومو کارونو دکولو یادکومواشیاؤ داستعمال چه ئی اجازت ورکړی دی. په هغی کښی

ضرور زمونږ فائده وی. داجدا خبره ده چه مونږ په خپله نفع اونقصان نه پوهیږو یا پری دپوهیدو کوشش نه کوؤ.

دیو څیز دحرام کیدو دوه وجی وی. یوه داچه هغه څیز ډیر محترم وی په دی وجه هغه حرام گرځول شوی وی. لکه دانسان غوښه نه خوړل. ددی وجه داده چه انسان ډیر محترم دی. یا هغه څیز په دی وجه حرام کړی شوی وی. چه په هغی کښی زمونږ نقصان وی.

ډیر اشیاء داسی دی چه سړی ته ضرر او نقصان رسوی. په ننئ موضوع کښی مونږ هغه ټول اشیاء نه شو بیانولی کوم چه سړی ته نقصان رسوی. نن مونږ صرف دهغی اشیاؤ په هکله څه ویل غواړو کوم چه سړی نشه کوی او دکومو نه چه انسان ته بی کچه نقصان رسی. کوم اشیاء چه سړی نشه کوی په هغو کښی سر فهرست شراب دی. دکومی دحرمت حکم چه په دری مراحلو کښی نازل شویدی.

اوله مرحله:

خدایٔ پاك فرمائی:

وَيَسْئَلُونَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ قُلْ فِيْهِمَا اِثْمٌ كَبِيْرٌ وَّمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَاِثْمُهُمَا أَكْبَرُ مِن نَّفْعِهِمَا ط ۲:۲۱۹

ای پیغمبره! داخلق ستانه دشرابواو جواریٔ په هکله تپوس کوی. ورته اووایه چه دی دواړو کبنی دیرلویٔ نقصان هم دی او فائدی پکښی هم دی. ولی نقصان ئی دفائد ونه زیات دی.

دشرابو دحرمت په حقله دا اولنی حکم وو. په دی کبنی دانسان عقل ته اپیل شوی دی چه د شرابو په ښبنلو کبنی نقصان هم شته او فائده هم، ولی نقصان ئی دفائدی نه ډیر زیات دی ښکاره خبره ده چه هیڅ یو معقول سړی هغه کار کله هم نه کوی په کومی کښی چه تاوان ډیر وی او نفعه کمه. دلته خلکوته دا ترغیب ورکړی شوی دی چه پخپله ځان له تاوان مه ورکویٔ. دوی په زور دشرابو دښبلونه منع نه کړی شول. بلکه دنه ښبنلو معقول تجویز ئی ورته وړاندی کړو.

دویمه مرحله:

بیا دشرابو په هکله دویم حکم راغی په دی کبنی مومنان دنشی په حالت کبنی دلمانځه نه منع کړی شول.

خدایٔ پاك فرمائی:

یَا أَیّهاَ الّذینَ آمنُوا لأتَقربُوا الصَّلوة وأنتُم سُکَاری حَتّی تَعلموُا مَا تَقولُون. ٤/ ٤٣

ای مومنانو! دنشی په حالت کښنی نمونځ مه کوئ تر څو چه تا سو په هغه څه وپوهیږئ کوم چه تاسوپه نمانځه کښنی وایئ.

دنشی په حالت کښنی دانسان ذهن او حواس کار نه کوی. انسان په دی حالت کښنی خپل توازن هم قائم نه شی ساتلی. په دی حالت کښنی د ده په خپله ژبه قابو نه وی. دلیونو په شان بکواس کوی او فضول اولایعنی خبری کوی.

په دی آیت کښنی دانسان مذهبی جذبی ته اپیل او شو. چه نمونځ دمسلمان معراج دی او باید هله ؤشی چه دانسان حواس په ځائی وی او حواس به ئی هله په ځای وی چه نشه نه وی.

دریمه مرحله:

دشرابو په هلکه دریم حکم داسی راغی.

يَٰٓأَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ فَاجْتَنِبُوْهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ه إِنَّمَا يُرِيْدُ الشَّيْطٰنُ أَنْ يُّوْقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَآءَ فِى الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ وَعَنِ الصَّلٰوةِ فَهَلْ أَنْتُمْ مُّنْتَهُوْنَ

(۵:۸۹، ۹۰)

ترجمه: ای مومنانو! شراب، جواری، آستانی (بُتان) او په

غښو قسمتونه معلومول داټول ګنده کارونه دی. دا دشیطان کارونه دی. نوځان تری نه اوساتئ چه کامیاب شئ. دشیطان خوکار دا دی چه ستاسو په منځ کښی دشرابو او جوارئ په وجه دشمنی او بُغض پیدا کړی او دخدائ پاك دیاد او نمانځه مومنع کړی- نو آیا! تاسو ددی کارونو نه منع کیږئ او کنه؟

په دی آیت کښی شرابوته رجس یعنی ګندګی او غلاظت وئیلی شوی دی- نو دهوښیارانو خلقو په نزد شراب غلاظت او ګندګی ده- دا دشیطان کارهم دی- او کله چه شراب ګندګی هم ده او دشیطان کارهم دی نو بیا یو مسلمان چه صفت ئی دهوښیار دی، داکار څنګه کولی شی.

او ګورئ دشیطان خوکار دادی چه د آدم په اولاد کښی تفریق راولی او په منځ کښی ئی دشمنئ او کرکی پیدا کړی او دغه رنګ دوئ دیوبل نه نفرت اوکرکه اوکړی- دایو دنیاوی فساد دی چه شیطان ئی زمونږ په منځکښی دشرابو په وجه پیدا کول غواړی.

دشیطان دا کار هم دی چه مونږ د دوزخ لوګی او خشاك جوړ کړی- او د داسی کولو دپاره دده حکمت عملی دا ده- چه دی مونږ دخدائ پاك دیادونه دهغه داحکامونه او نمانځه نه غافل کړی- او دا دی دشرابو په وجه ډیر په ښه شان سره کولی شی-

گورئ دایو دینی فساد دی چه شیطان ئی دشرابو په ذریعه په مونږ کښنی پیدا کول غواړی.

داټول نقصانونه او ضررونه داسلام په نظر کښنی وو نو ځکه ئی انسان دشرابو دڅښلونه منع کړو- هم دا آیت دشرابو په حرام کیدو قطعی دلیل دی.

ددی نه علاوه اسلام دشرابو په حرام کولو دومره زور ولی راوړی دی؟ نو داځکه چه اسلام هر یو مؤمن قوی، متوازن، عقلمند او د هوش او حواسو مالك غواړی. او په دی کښی هیڅ، شك نشته، چه شراب دانسان شخصیت دیر زیات متاثره کوی. دده قوت مزاحمت ختموی. او خصوصاً دده په عقل او هوش او حواسو ډیر منفی اثر غورزوی. او کله چه دانسان عقل او هوش وحواس مفلوج شی نو انسان بیایو شریر او سرکش حیوان جوړشی. او دده نه بیا داسی خراب کارونه کیږی چه سړی ئی تصور هم نه شی کولی. بیا دی قتل، دشمنئ، بی حیایئ رازونه برڅیره کولو او دملك او قوم سره دشمنئ کولو ته هم تیار وی.

بیا دانسان داشر او فساد یواځی دده په ځان اثر نه غورزوی بلکه ددی اثر بیا دده په گاونډی دوستانو او هر هغه سړی کیږی دچا چه دده سره څه نه څه تعلق وی. دی خو یو ذمه دار فرد دی. دده په ذمه ډیر وخلقو حقوق دی. دهغی ادائیگی

دده په ذمه فرض ده. دنشی په وجه چه دده قوتونه کمزوری شی نو دی بیا داحقونه نه شی ادا کولی. دی یواځی خپل ځان ته نقصان نه رسوی. بلکه ټوله معاشره دده په دی عمل متاثره کیږی. هم داوجه ده چه شرابو ته په احادیثو کسی أُمُّ الخَبَائِث وئیلی شوی دی.

عن عبدالله بن عمرو بن العاص(رض) ان النبّی صلی الله علیه واله وسلّم قال: اَلْخَمْرُ اُمُ الخبائث.

شراب دټولو خرابو جرړه ده- دا روایت دحضرت عبدالله بن عمرو بن العاص(رض) نه شوی دی. هم په دی روایت کښی دحدیث شریف الفاظ داسی هم راغلی دی.

اَلْخُمْرُ اُمُّ الْفَوَاحِشِ. شراب دټولو بی حیایو جرړه ده. نو چه کوم ځیزته حدیث شریف کښی ام الخبائث او ام الفواحش وئیلی شوی دی، هغی څښنل به څنګه نه وی حرام؟

دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دی وائی چه رسول دخدایٔ په دی کسانو ډیر بد وئیلی دی.

دشرابو نچوړونکی، کشیدکوٌنکیْ- څښونکی، وړونکی او چه چاله وړلی شی دهغه څښوونکی، خرڅونکی- ددی ګټه خوړونکی، اخستونکی او دچا دپاره چه اخستلی شی په هغه.

اوس راځئ چه لږ غوندی دشرابو په نقصاناتو نورهم غور اوکړو.

عالمان وائی چه دشرابو په نقصاناتو او ضررونو کښنی دشك یا شبهی هیڅ کنجائش نشته. ځوك چه شراب څښی هغه دهغه په جسم او اخلاقو ډیر بد اثر کوی. او نتیجه ئی داوی چه دابیا په ټوله معاشره ډیر ناکاره اثر غورزوی. دلیل ئی دادی چه دعلمائی دین، علمائی طب، علمای اخلاق، علمای معاشرتی علوم او علمای معاشی علومو نه په دی هکله تپوش اوشو. نو دی ټولو او وی چه دا قطعی ممنوع دی. ځکه چه ددی په نقصان کښنی دشك او شبهی هیح گنجائش نشته.

علمائی دین وائی چه شراب ځکه حرام دی چه دا دټولو خرابو جرړه ده.

علمائی طب وائی چه شراب دانسان دپاره ډیر زیات خطرناك دی. دانه یواځی ده ته بی کچه نقصان رسوی. بلکه په راتلونکی ژوند کښنی هم دشرابو نتائج ډیر تباه کن وی. په دی خطروکښنی یوه خطره داده چه داپرپوس (سگی) تباه کوی. دا په وجود کښنی قوت مزاحمت ختموی. اینه خوډیره زیاته متاثره کوی. دوجود اعصابی نظام بیخی فیل کوی. او ددی په وجه دماغی امراض هم ډیر را پیدا کیږی.

علمائی اخلاق وائی چه انسان ته پکار دی چه دی دخپل جسمانی توازن پاك دامنئ، شرافت، عزت، بهادرئ او خود داری حفاظت اوکړی. ولی شراب په دی ټولو ښو صفاتو ډیر زیات اثر انداز کیږی. نو اسلام ځکه دامنع کړی دی.

دمعاشرتی علومو دعلماؤ خیال دی چه دیوی ښی معاشری دپاره دامن او نظم وضبط ډیر ضرورت وی. او کوم اشیاء چه دمعاشری امن او نظم وضبط ته نقصان رسوی. دهغی دکولو یا دهغی داستعمال ممانعت لازمی وی. ګنی بیا په معاشره کښی انتشار، فساد او بدامنی پیدا کیږی. او شراب یوداسی څیز دی کوم چه داټولی خرابئ را پیدا کوی. نوځکه اسلام دامنع کړی دی.

دمعاشیاتو عالمان وائی: چه کومه روپئ او پیسه مونږ دخپلی فائدی دپاره خرڅ کوو هغه زمونږ او زمونږ دقوم دپاره دقوت او ترقئ سبب کرځئ. او کومه پیسه چه مونږ په خپل نقصان خرڅ کوو هغه زمونږ او زمونږ دقوم او ملك دپاره دنقصان باعث کرځی. نوکومی په کروړونو روپئ چه دقسماقسم شرابو په درآمد او دهغی په ښبنلو خرڅ کولی شی. هغه نه یواځی مونږ په اقتصادی ډول کمزوری کوی بلکه زمونر انفرادی او قومی غیرت هم خاوری ایری کوی.

ولی شراب څه ته وائی؟ ددی جواب په ډیرو احادیثو کښی ذکر دی. خلاصه ئی داده چه کوم څیز هم سړی نشه کوی. هغه که دهرڅه نه جوړوی، خو هغه په شرعی ډول دشرابو په حکم کښتی دی، او حرام دی.

دحضرت ابن عمررضی اللّٰه عنه نه روایت دی. چه رسولﷺ دخدایٔ فرمائیلی دی: كُلّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ وكُلُّ خَمْرٍ حَرَامٌ.

ترجمه: هره نشه کونکی څیز دشرابو په حکم کښی دی او هر شراب حرام دی (نو هر نشه کونکی څیز حرام دی) په صحیحینو کښی راغلی دی چه حضرت عمر(رض) یوځل په منبر ودریدو او وئی وئیل:

أَيُّهاالناسُ! انَّهُ نَزَلَ تَحريمُ الخَمْرِ وَهِيَ مِن خَمسَةِ اَشياءِ: مِنَ العِنَبِ والتَّمرِ والعَسَلِ والحِنْطَةِ واَلشَّعيرِ واَلخَمْرُ مَا خَادَ العَقلُ:

ای خلقو! دشرابو حرمت راغلی دی. او شراب دپنځو څیزونونه جوړیری. دانگورونه، د خرماوونه، دشهدونه، دغنمونه او دوربشونه. او په یو بل روایت دجوارونه هم شراب جوړیږی. او شراب هغه دی کوم چه سړی نشه کوی او عقل بیکاره کوی.

دغه رنگ یو سړی دیرسول دخدایٔ نه دشرابو دیو قسم په حقله تپوس اوکړو. کوم چه به دویٔ په یمن کسی څښل او کوم چه به دجوارونه جوړیدل. رسول دخدایٔ تری تپوس اوکړو. چه آیا

دمخدره موادو تاریخ او جغرافیه

۱- دمخدره موادو جغرافیه :

دآسیا براعظم د کوکنار (کوکنار) دبوټی داصلی خاوری په توګه پیژندل شوی دی.

په ننی نړی کي آسیائی هیوادونه دآفیمولومړنی تولیدوونکی منبع ګڼل کیږي، دنړی تر ټولو زیات افیوم تولیدوونکی هیوادونه عبارت دی له تایلیند، برما او لاوس، کوم چه دطلائی مثلث په نوم یادیږی او ایران، افغانستان او شمالي پاکستان څخه کوم چه دطلائی هلال په نوم یادیږی.

په دي دوو طلائی سیمو سربیره ترکیه هند او چین هم دافیمو په تولید کی شهرت لري، په منځنی ختیځ کی لبنان یوانځنی هیواد دی کوم چه دافیمو په تولید کی لاس لری،

جنوبی امریکا دکوکا (کوکین) دبوټی اصلی خاوره بلل

داسې نشه کوي؟ هغه ورته اووې: او. دوئ ﷺ اوفرمائيل هرنشه کونکې څيز حرام دی.

اوس راځئ چه هغه څيزونه واخلو کوم چه دشرابو په رنګ ښنلی کيږی نه ولی استعمال ئی عقل بيکاره کوی. او هغو مره نقصان ده دی. څومره چه شراب دی. لکه چرس، افيم، بهنګ او دافيمونه جوړ څيزونه لکه هيروئين يا دنشی ستنی. داټول اشياء په متفقه ډول حرام دی. ځکه چه داهم نشه کونکی دی.

رسول ﷺ دخدای فرمائيلی دی: كُلّ مُسكر خمرٌ وكُلُّ خَمرٍ حرَامٌ.

هر نشه کونکی څيز دشرابو په حکم کښی دی. او ټول شراب حرام دی.

ددی حديث په رڼا کښی يو وار دمصر ديو مفتی نه دچرسو، بهنګو، افيمو او نشی دستنو په هکله تپوس اوشو. سوال داسی وو:

۱- ددی اشياؤ خوراك، ښناك، لوګی راښکل يا ستنی لګول ښنکه دی؟

۲- ددی اشياؤ تجارت حرام دی او که حلال؟

۳- خشخاش، چرس او بهنګ کرل ښنکه دی؟ او د دی نه

چه کوم نشه کونکی اشیاء جوړیږی، کوم چه خلق استعمالوی، یائی خرڅوی، هغه څنګه دی؟

٤- ددی اشیاو خرڅ او ددی ګټه وټه حلاله ده او که حرامه؟

مفتی صاحب ددی سوال په جواب کښی اوویل:

په دی کښی هیڅ شك نشته چه داټول اشیاء ددی استعمال، ددی خوراك، ددی څښل، ددی لوګی راښکل او ددی ستنی لګول قطعاً حرام دی څکه چه ددی په استعمال دانسان وجود ته بی کچه نقصان رسی. دا دسړی عقل فاسدوی او وجود ته هم ډیر زیات نقصان ورکوی. دا د انسان اعصابی نظام هم مفلوج کوی.

هم داوجه ده چه علماء وائی چه څوك حشیشوته حلال وائی هغه زندیق دی- او دعبدالله بن عمر رضی الله عنه دحدیث مطابق داټول څیزونه سړی نشه کوی نو ځکه دشرابو په رنګ حرام دی. نو نتیجتاً ددی اشیاؤ خوړل، څښل، لوګی راښکل یا ددی ستنی لګول حرام دی.

ترڅو چه ددی اشیاؤ دتجارت تعلق دی. نو چه کله ددی اشیاؤ استعمال حرام دی نو تجارت ئی هم حرام دی. رسول ﷺ دخدائ وئیلی دی:

اِنَّ اللّٰهَ حَرَّمَ بَیعُ الخَمْرِ وَالمَیْتَةِ وَالخَنزِیرِ وَالاَصنَامِ.

(ترجمه) اللّٰه تعالی دشرابو، مرداری، خنزیر او بتانو خرڅ یعنی تجارت حرام کرځولی دی.

دغه رنګ په نورو ډیرو احادیثو کښې راغلی دی چه دکومو اشیاؤ استعمال ممنوع او حرام دی. دهغی اخستل او خرڅول او دهغی ګټه هم حرامه ده په دی وجه ددی نه داخبره په پوره ډول ثابتیږی- چه دشرابو او نورو نشه کونکو اشیاؤ په حکم کښې هغه ټول اشیاء شامل دی. دکومو ذکر چه اګاهو شوی دی یعنی چرس، افیم، بهنګ، هیروئین وغیره.

ترڅو چه دتجارت په خاطر ددی اشیاؤ ذکر تعلق دی. نو کله چه کاشتکارته داخبره معلومه وی. چه ددی نه به دنشی څیزونه جوړولی شی. نو دحدیث شریف دمضمون مطابق داهم حرام کرځئ. دحضرت ابن عباس(رض) دروایت مطابق رسولﷺ دخدایٔ فرمائیلی دی: چه چا انګور په دی وجه په ونه کښې اوساتل یا دځان سره کیښودل چه په هغه چا ئی ګران خرڅ کړی څوك چه تری نه شراب جوړوی نو ځان ئی د دوزخ کندی ته اوغورځولو.

عن ابن عباس(رض) عن رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم اِنَّ مَن حَبَسَ العِنَبَ اَیَّامَ القِطَافِ یَبِیعُهُ لِمَن یَتَّخِذُهُ خَمراً فَقَدتَقحمَ النَّار.

هم داحدیث شریف دافیمو او حشیشو په کر هم پابندی لگوی. ځکه چه داخوهم ددغی مقصد دپاره کرلی شی. او دا پابندی ددلالة النص نه ثابتیږی.

ددی اشیاؤ په کرکښی داخبره هم ده. چه داد گناه په کار کښی دبل سره مددکول دی. ځکه چه ددی نه خوهم هغه څیزونه جوړیږی دکومی ذکر چه وړاندی اوشو. خدائ پاک په قرآن پاك کی وائی:

وَلاَ تَعَاوَنُو عَلَى الاِثِمَ وَالعُدوَانِ

(ترجمه) په گناه او سرکشئ کښی دچا سرد تعاون مه کوی. گویا چه په گناه کښی دچا سره تعاون کول داسی دی لکه چه سړی هغه گناه پخپله کوی.

دغه رنگ هر کاشتکار چه دا اشیاء کری نو دا دده داړخ نه په دی خبره رضامندی ښکاره کول دی چه ددی اشیاؤنه ددنشی څیزونه جوړ کړی شی. او دهغی تجارت داوشی. او دا دگناه کار دی. او دگناه په کار رضامندی ښکاره کول بذات خود گناه کار دی.

ددی اشیاؤ نه چه کومه گټه کولی شی یا ددی دخرڅ نه چه کوم رقم حاصلولی شی هغه هم حرام دی.

رسول ﷺ دخدایٔ وئیلی دی:

اِنَّ اللّٰهَ اِذَا حَرَّمَ شَیْئاً حَرَّمَ ثَمَنَهُ

الله تعالی چه کوم اشیاء حرام کړی دی، دهغی قیمت او گټه ئی هم حرام کړی دی.

الغرض حشیش، افیم، کوکین او ددی په رنگ نور ټول دنشی اشیاء حرام دی. ددی تجارت هم حرام دی. کر ئی هم حرام دی. او گټه ئی هم حرامه ده.

ترڅو چه دتماکو دحرمت تعلق دی. نو ددی په هکله هم علمائی دین او علمائی طب په دی نتیجه رسیدلی دی چه تماکو استعمالول په حقیقت کښی ځان په خپله هلاك کول دی.

خدایٔ پاك په قرآن پاك کسی فرمائی:

وَلاَ تَلْقُوْا بِاَیْدِیْکُمْ اِلَی التَّهْلُکَةِ

ځان پخپله مه هلاك کویٔ.

دتماکو استعمال په وجود کښی داسی ناروغتیاگانی راپیدا کوی. کومی چه دانسان دهلاکت سبب گرځی. نو دتماکو استعمال هم ددی آیت په حکم کښی راځیٔ. او کله چه دتماکو استعمال دانسان دهلاکت سبب گرځیٔ. نو بیا دتماکو کر او تجارت هم حرام گرځی. زموږ زمکی ډیری ښځبی زمکی دی. په دی کښی داسی

اشیاء ولی کرلی شی، کوم چه زمونږ د هلاکت سبب گرځی.
دغـه رنگ سگریټ څښل او تماکـو کرل چه سگریټ تری نه جوړیږی هم ددی آیت په حکم کښی دی چه وَلاَتَقْتُلُو اَنْفُسَکُمْ. خپل ځانونه مه وژنی.
گویا چه سگریټ څښل د انسان د ځان او دده د نسل د هلاکت اسباب کرځی. د نسوارو په هکله هم ځنی عالمان ددی آیت نه استدلال کوی. او وائی چه نسوار خو هم د وجود دپاره ډیر نقصانی دی. د غاښونو دپاره مضر دی. دخلی نه سخا بوئ راځی. خُله صفا نه وی. نسواری سړی هر وخت ځائ بی ځائ لاړی توکی. نو گندگی خوریږی او دا د نظافت داصولونه خلاف دی. دا په معده هم خراب اثر غورځوی. نو دا هم ددی آیت په مفهوم کښی راځی. او په تیره تیره دا د مار د زهرونه هم تیز دی. نو په دی ځان وژل عقلمندی نه ده. دغه رنگ چه په دی کوم مال خرڅ کولی شی هغه د مال ضیاع ده. او د مال ضیاع په شریعت کښی گناه ده.

والسلام

B
6.54
ISR
4127
cp.2

د هیر وشینو اعتیاد

هغه بوږنوونکې وبا ده چه پر ضد ئې مبارزه د ټولنې د هر درد او احساس لرونکې وګړي اسلامي او وجداني دنده ده.

نو راځئ چه ټول په ګډه سره ددې وبا پر ضد مبارزه وکړو.

کیږی، افریقه دچرسو داصلی خاوری په نوم پیژندل شویده، کوم چه په ټوله نړی کی ډیر عام دی. دچرسو بوټی په هر ډول آب وهوا، په خصوصی ډول دحاره ای مناطقو په اقلیم کی په ځنګلی ډول راشین کیږی پورتنی حقایق په آسیا کی دآفیمو، په جنوبی امریکا کی دکوکینو او په افریقا کی دچرسو دعنعنوی استعمال په هکله خبری کوی ،په اروپا کي دیونان، یوګوسلاویا او بلغاریا په هکله راپور ورکړی شوی چه د ډوډی په کښت کی ملوث دی. دجنوبی امریکا په ځینو برخو کی هم چرس کرل کیږي.

۲- دمخدره موادو تاریخ:

سومیریانو ۴۰۰۰ قبل المیلاد پخوا د ډوډی بوټی ته د«ذایقی» او خوند دبوټی، نوم ورکړ. دمصریانو په ارتباط مشهوره ده چه هغوی په ۱۵۰۰ قبل المیلاد کی افیون پیژندلی دی، قفقازیانو عادت درلود چه دجنګ په وخت کی به ئی یو ډول مخدره ماده چه دمچمورا په نوم یادیده خوړله تر څو هغوی ته قوت او فتح ور په برخه کړی. ساسانیان دچرسو(حشیش) داستعمال لپاره مشهور ؤ دکوم تر تاثیر لاندی به چه هغوی عقیده لرله چه هغوی ته دخپل جرأت او نیکو اعمالو لپاره فردوس په بدله کی ورکړای شوی دی. داتلسمی پیړی په دوران کی هندی عسکرو عادت درلود چه دافیمو او چرسو دیو مخلوط محصول تر تاثیر لاندی به ئي بی له دی چه کوم ممکن خطر په نظر کی

ونیسی په پټو سترګو دجګړې میدان ته ځانونه غورځول.

یونانیانو او رومیانو دخوب لپاره یو بت درلود چه دیونانیانو له خوا د«هایپونز»او رومیانو له خوا د«سومیاس»په نوم یادیده او دکوم مجسمه به ئی چه د ډوډی دبوټی په واسطه ښکلی کوله.

ویل کیږی چه عربانو دمخدره موادو استعمال له یونانیانو څخه زده او بیائی چینایانو ته وروښود.

داسی معلومیږی چه په افغانستان کی مخدره مواد د چینایانو له خوا معرفی شوی او په همدی اساس د بدخشان ولایت افغانستان ته د مخدره موادو دروازه ګڼل کیږی. خوځینی نور خلك عقیده لری چه افغانستان ته مخدره مواد دهغو ترکانو له خوا راوړل شوی دی، کومو چه له مرکزی آسیا څخه جنوبی ختیځ ته کوچ کړی ؤ. همدا رنګه ویل کیږی چه ترکانو د مخدره موادو استعمال په ترکیه کی له مصریانو څخه زده کړی ؤ.

دبرطانوی امپراطوری په دوران کی هند چین ته د زیاتو مخدره موادو قاچاق کوونکی هیواد ز ،کوم په نتیجه کی چه دبرطانیی او چین تر منځ جګړه وشوه. (دافیمو جنګ)

همدا رنګه له ډیر پخوا راهیسی ساحران او محلی طبیبان هم د مخدره موادو په استعمال کی بوخت دي او د مخدره موادو تأثیرات سحری او جادوګری قوت ته راجع کوي.

دافغانستان مخدره موادو تولیدوونکی سیمی

الف: افیوم:

په افغانستان کی د زیاتو افیمو تولیدوونکی سیمی عبارت دي له بدخشان، هلمند، ننگرهار او هرات څخه . په دی سیمو سربیره دمزار شریف، کونړ، لغمان، وردك، لوگر، پکتیا او قندهار ولایتونو په ځیني برخوکی هم کوکنارکرل کیږی.

په افغانستان کي پخوا دهیروینو تولید نه پیژندل کیده. د هیروینو تولید په سیمه کی د هغو سیاسی بدلونونو نتیجه ده، کوم چه په اویاومو کلونو کی منځ ته راغلل. همدا رنگه د طلائی مثلث (تایلیند، برما اولاوس) په سیمه کی د افیمو خراب محصولات هم ددی سبب شول، چه د طلائی هلال(ایران، افغانستان او پاکستان) په سیمه کی د مخدره موادو د زیات تولید په واسطه، جبیره شي. ددی په تعقیب په ایران کی تر

انقلاب وروسته د مخدره موادو په تولید باندی د بندیز لګول او په افغانستان کی د جګړی پیل کیدل په افغانستان او پاکستان کی د افیمو د لازیات تولید عوامل ګڼل کیږی. په دی دوران کی د هیروئینو تکنولوژی پاکستان ته راوارده کړای شوه او په سیمه کی د هیروئینو تولید پیل شو. په پاکستان کی د مخدره موادو پرضد دقانون د ورځ په ورځ زیاتیدونکی تطبیق او په افغانستان کی د مخدره موادو پرضد د قانون د نه تطبیق او آزادی په سبب افغانستان د مخدره موادو د تجارت د انتقال لپاره یواځینی پناګاه پاتی شوه. په همدی ارتباط په یو راپور کی ویل کیږی چه په بدخشان کی فعلاً د هیروئینو یوی فابریکی پناه اخیستی ده او یو تعداد نوری ئی هم ممکن د افغانستان او پاکستان په سرحد باندی نصب کړای شی.

ب: چرس:

چرس تقریباً په ټول افغانستان کی را شنه کیږی، خو لیکن د افغانستان په جنوبی سرحدی ولایاتو کی په تجارتی ډول کښت کیږی. همدا رنګه د افغانستان چرس د افغانانو د کرني د خاصو تخنیکونو په سبب دقوی والی نړیوال شهرت لری.

په افغانستان کی د ننګرهار، کونړ، پکتیا پکتیکا، وردګ، هلمند، غزنی او قندهار ولایتونه د چرسو دتولید لپاره

مشهوردي.

ج: تنباکو:

تنباکو دهرات، هلمند، وردك، لغمان، او کابل په ولایاتو کی د سګرټو او نصوارو د تولید لپاره کرل کیږی. د تنباکو یادونه دلته د هغوی د خطرناك والی په سبب نه، بلکه له دی امله شوی ده چه سګریټ څکول او نصوار کړل د نورو اعتیاد جوړوونکو مخدره موادو د استعمال لپاره یوه لاره جوړیدای شی.

د مخدره موادو په استعمال کی پرمختګ

عنعنوی استعمال:

د مخدره موادو عنعنوی استعمال په نړی کی په مسلسل ډول سره ځیني عمومیات ښودلی دی کوم چه دنړی د مختلفو برخو ترمنځ مشترك دی. خو لیکن دی عنعنوی استعمال په هره ټولنه کی، په هغی ټولنی کی دتغیراتو او پرمختګونو سره یوځای، یولړ تغیرات قبول کړی دي.

په اوایلو کی به مخدره مواد معمولاً د درد، د آرامولو په خاطر ددرملونو ، اویاله نورو واښنه ډوله بوټو سره دمخلوط په ډول د ځینو ناروغیو د تداوی او یا دمذهبی دودونو په ډول

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:

«كُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ وَ كُلُّ خَمْرٍ حَرَامٌ»

(صحيح مسلم، ابن ماجه)

«هرډول مخدره ماده شراب دي او هر ډول شراب حرام دی»

داسلامی لارښوونو په رڼاکی

د مخدره موادو په هکله اساسی معلومات

الوكالة الإسلامية للإغاثة

د ملگرو ملتونو دمخدره موادو د کنترول نړیوال پروگرام د افغانستان د پروگرام دفتر

دریم چاپ

پیښور - پاکستان

١٤١٥هجری / ١٩٩٤ء میلادی

دمضامینو فهرست

گڼه	مضمون	لیکنه	مخ
۱-	سریزه	اداره	۱
۲-	دمخدره موادو تاریخ او جغرافیه	د. عبدالرحمن احمد	٤
۳-	دافغانستان مخدره موادو تولیدوونکی سیمی	د. عبدالرحمن احمد	۷
٤-	دمخدره موادو په استعمال کښی پرمختګ	د. عبدالرحمن احمد	۹
۵-	تمدن او مخدره مواد	د. عبدالرحمن احمد	۱۱
٦-	نشه ای مواد اوس بین المللی ستونځه ګرځیدلی	د. میرزاجان	١٤
۷-	دنشه ای موادو ناوړه اثرات او ستونځی	د. میرزاجان	۱۹
۸-	چرس او دهغه ناوړه اثرات	د. میرزاجان	۲٤
۹-	دنشه یانو پیژندنه	د. میرزاجان	۲۸
۱۰-	دمخدره موادو مخنیوی	د. میرزاجان	۳۳
۱۱-	منشیات دقرآن او احادیثو په رڼاکښی	پروفیسر داکتر سعیدالله قاضی	۳۹